د هغو خلکو کورونو ته مه ننوځئ چې پر ځانونو يې ظلم کړی دی، مګر د ژړا په حال کې

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: مورږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د الْحِجْر سیمې تر څنګ تېر شو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مورږ ته وفرمایل: "د هغو خلکو کورونو ته مه ننوځئ چې پر ځانونو يې ظلم کړی دی، مګر د ژړا په حال کې؛ که نه نو تاسو به هم د دوی په څېر برخلیک سره مخ شئ" بیا يې خپله (سپرلۍ) چټکه کړه، تر دې چې له سیمې تېر شو.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ثمودیانو پر کورونو تېرېده نو د هغو خلکو کورونو ته يې له ننوتلو یا ورتګ څخه منع وکړه چې پر ځان يې ظلم کړی و، مګر دا چې داخلېدونکی کس هلته وژاړي او له هغوی څخه عبرت واخلي؛ له دې ویرې چې هسې نه هغه څه ور وروسېږي چې هغوی ته رسیدلي و، بیا يې خپلې سپرلۍ باندې چغه کړه، نو هغه تېزه شوه، تر دې چې له هغه ځایه تېر شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66294

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee